

Baghlan University Academic
Research Journal
https://baghlan.edu.af/ *Vol. 12, Issue. 2, Serial No. 35 (2024) 199-210*

# Social Awareness in the Poems of Ulfat

**Abdul Jalil Hasihmi**

Department of Pashto Language and Literature, Humanities and Literature Faculty, Baghlan University, Afghanistan.

**Corresponding Author:** Abdul Jalil Hasihmi, **E-mail:** hashimi@baghlan.edu.af

**Article Info**

**Article Type:** Review Article

**Article History:**

**Received:** 25, June, 2024

**Revised:** 15, July, 2024

**Accepted:** 17, July, 2024


**Published:** 4, September, 2024

**ABSTRACT**

Poetry is considered as a means of social reform as well as social awareness. This objective is achieved by poetry in various eras of the human history. Poetry has always called the people and the whole society to wake up and give up neglecting as well as slumber. The poems and prose pieces of Ustad Gul Pacha Ulfat has carried this image in Pashto literature. Furthermore, this article focuses on Ulfa's poetry and is a contribution to awareness of the society. The social awareness and the themes of criticism are known to be strong genres in Ustad Alfat's poems and prose works. His poems have been presented with a wonderful awakening and Islamic awareness goals for the purpose of reforming and building the society. Imagination, awakening are key features in the Ulfat's poetry and prose for the next generation. His poetry is to increasing human dignity, Islamic values and peaceful life for the noble and oppressed people.

**Keywords:** Nationalism, Social Awareness, Unity and Social Reform.

To cite this article: Hasihmi, A. J : 2024. Social Awareness in the Poems of Ulfat. Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 12, Issue. 2, Serial No. 35 - Spring – Summer (2024), 199-210.
License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.
Publisher: University of Baghlan




**د بغلان پوهنتون علمي او څېړنيزه مجله**

**مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان**

https://baghlan.edu.af/ Vol 12. Issue. 2, Serial No. 35 (2024) 199-210

# د الفت په اشعارو کې ټولنيزه بيداري

**پوهندوی عبدالجلیل هاشمي**

**د بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، د پښتو ژبې او ادب څانګه**

| **اطلاعات مقاله** | **لنډيز** |
|---|---|

نوع مقاله:
مقاله مروری

تاریخ دریافت:
۱۴۰۳/۰۴/۵ هـش

تاریخ بازنگری:
۱۴۰۳/۰۴/۲۵ هـش

تاریخ پذیرش:
۱۴۰۳/۰۴/۲۷ هـش

تاریخ انتشار:
۱۴۰۳/۰۶/۱۴ هـش

شعر د ټولنيز سمون او ملي ويښتيا يا بيدارۍ يوه داسې وسيله ده چې د بشري تاريخ په بېلابېلو دورو کې يې خپل رسالت تر سره کړی دی او ټولنې يې له غفلت او ويده کېدو څخه بيدارۍ ته را بللې دي. په پښتو ادب کې د استاد ګل پاچا الفت منظوم او منثور کلامونه دا نقش تر سره کوي، چې دا مقاله يې په ملي ويښتيا کې د شعر ونډې ته ځانګړې شوې ده. د استاد الفت په منظمو او منثورو اثارو کې د ټولنيزې بيدارۍ او سالم انتقاد مالګه پياوړې ده، نوموړې په دې برخه کې تر بل هر چا ښه قلمي څواک کارولی دی او د خپلو شعرونو پيغامونه يې د بشري ټولنې د سمون او اصلاح په موخه وړاندې کړي دي، د ده شعرونه همداسې په زړه پورې بيداروونکي ملي او اسلامي بيدارۍ انګيزې او خيالات، د راتلونکی نسل بيدارول، انساني کرامت ، اسلامي ارزښتونه را برسېره کول، تش لاسې مظلوم ولس ته سوله ییز او ارام ژوند راوړل، د حاکمانو هڅول، زلميو ته ملي روحيه ورکول دي.

**کليدي کلمې:** ټولنيزه بيداري، ملي احساسات، هېوادپالنه، يووالي او ټولنيز سمون.

استناد: هاشمي، عبدالجلیل. (۱۴۰۳)، د الفت په اشعارو کې ټولنيزه بيداري، مجله علمی-تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۲، بهار و تابستان(۱۴۰۳)، شماره مسلسل ۳۵، دور۱۲. (۱۹۹-۲۱۰).

ناشر: پوهنتون بغلان.

## سريزه

استاد گل پاچا الفت د معاصري دورې ځلانده ستوری دی، د نوموړي اشعار د ټولنيزې بيدارۍ په برخه کې يو شهکار گڼلی شو، هغه په دې برخه کې خپل فردي او ټولنيز مسووليت يې په ښه شان ترسره کړی دی؛ نو اړينه ده، چې د استاد د شعرونو د ملي او اسلامي پيغامونو څخه ټول لوستونکي او هېوادوال خبر کړو، تر څو د ښاغلي استاد د هېواد او ملت په اړه د زړه دردونه ملي پيغامونه، ټولنيزه بيداری، د هېواد خپلواکی تر څنگ بيارغونه او سمسورتيا لپاره د ويښ ملت پام اړونه يوځلې بيا اړينه برېښيده؛ نو ملي ټوالنيزه بيداري د الفت په اشعارو کې هغې بيدارۍ ته وايي: چې د اسلامي او ملي فکر په رڼا کې خلك له ناخوالو او بدبختيو څخه وژغوري، هغوی په دين، هېواد پالنې، يوالي او کلتوري ارزښتونو پوه کړي؛ ترڅو پورې د خلکو تر منځ بې اتفاقي، ناپوهي، دښمنی، ورور وژنه او ناوړې کړنې په هېڅ وخت کې تر سره نه کړي، دغه شاعر په خپلو ټول شعرونه کې همداسې سپېڅلي او ملي پيغام لرونکي مسايل بيان کړي دي، همدارنگه استاد د هېواد په بېلابيلو سياسي او ادبي دورو کې ظالمو حاکمانو او هم عامو وکړو ته د خپل ولس همدردي، ملي يووالی، هېواد او ملت پالنه او دې ته ورته ملي احساسات وړاندې کړي دي. د مظلومو او يتيمانو په حال او احوال يې سخت ژړلي او ظالم حاکمان يې غندلي دي، د دې تر څنگ هغوظالمانو حاکمانو او ولس ته يې خپل عيبونه ور په گوته کړي او هغوی يې تلپاتې ټولنيز عدالت ته را بللي دي، نو د همدې ملي ټولنيزې بيدارۍ د رامنځته کولو مسووليت د ديني عالمانو، پوهانو، رسنيو، شاعرانو، قومي مشرانو، ليکوالانو او اديبانو دی، چې په دې هکله بيان او ليکنه وکړي، نو ما هم د يوې مقالې په کچه ددغه موضوع د څېړنې هوډ وکړ.

زما موخه له دې څېړنېزې مقالې څخه داده، چې درانه محصلين، لوستونکي او د ادب مينه وال په ټولنيز ژوند کې د استاد الفت په اشعارو کې ملي ټولنيزه بيداری پلي کړي او په خپل ژوند کې بې پروا، بې تفاوته او بې فکره پاتې نه شي. د ژوند په ټولوچارو، پاکو شېبو کې ملي او ټولنيزه ويښتيا ولري.

د استاد اشعار وضاحت لري، شعري کلمات يې د ماناگانو سره تناسب لري او ښې معناگانې يې په مناسبو الفاظو کې ځای په ځای کړي دي، د نفس تزکيه او روان پاکوالی يې په اشعارو کې ښودلی دی، استاد چې هر څه مشاهده کړي د انساني تجربو د رڼا په رنگ ليکلي دي، ځکه د خپل وخت يو رياليست شاعر دی، شعرونه يې له عيني او ذهني انځورونو څخه ډک دي.

د دې مقالې د ليکنې په ترڅ کې له بېلابېلو معتبرو کتابونو څخه د الفت هغه کره شعري بېلګې را وړل شوي، چې د ټولنيزې ملي بيدارۍ پيغام پکې نغښتی وي، بيامې هغه سپړلي دي،تر څو لوستونکي او د ادب مينه وال د الفت له ټولنيزې بيدارۍ څخه خبر شي او هم د ژوند په ټولو برخو کې نوموړي شعرونو په لوستلو سره زموږ ملت د غفلت له درانه خوب څخه را بيدار او ويښ احساس ور کوي. نو دلته بېرته اصلي موضوع ته راګرځم، چې پرې رڼا واچوم.

**د څېړنې روش**

په دې مقاله کې له تحليلي او تطبيقي ګډوله ميتود څخه کار اخيستل شوی دی، اړوند بيتونه تحليل شوي او بيا ورباندې د ټولنيزې بيدارۍ نظريه تطبيق شوې ده.

**د الفت په اشعارو کې ټولنيزه بيداري**

استاد الفت د ټولنيزې بيدارۍ د پيغام په اړه په زړه پورې منظومې او منثورې بېلګې لري، د نوموړي په دواړو ژانرونو کې د فکر اهميت او پېژندنې به اړه ليکنې کړي دي، په دې موخه چې، زموږ ځوان نسل سالم او رغوونکی فکر ته وهڅول شي او د پرديو له فکرونو څخه وژغورل شي؛ نوی نسل مو بيدار شي، هغوی په ټولنه کې خپل ټولنيز رسالت وپيژني، د هېواد پالنې او په ملي روحيه يې وروزل شي، دې ته ورته په اشعارو کې ملي مسايل څېړل، ټولنيزه بيداري بلل کېږي؛ نو په دې اړه استاد الفت ملي خپلواکۍ ته داسې اشاره کوي:

د ملي ژوند اساس خپلواکي ده
د ملي غرور ژوند، سر لوړي ده
چې هر څومره ملت متحد وي
خپلواکي يې هغومره قوي ده
په ملي ثقافت قوم ژوندی دی
کلتوري سرمايه يې هستي ده
په ازاد او خپلواکه وطن کې
روا کله په بل باداري ده

( الفت، ۱۳۷۵: ۲۴۶).

د ازادۍ او غلامۍ د زنځير ماتولو په اړه بله شعري بېلګه:

يــو پــټ غلی احساس دی، چې ارام مې نه پريږدي
پــه اور مـــې کــړوي لکه چې، خام مې نه پريږدې
جــرآت مـــې زيـــاتوي دومره په ځان يمه پوه شوی
غافل لــــــــــــه خپله حقه او غلام مې نه پريږدې

( باجوړی، ۱۳۸۷: ۱۷۱).

استاد الفت دا درک کړې ده، چې د خلکو ملي ټولنيزه بيداری کې ازادي او خپلواکي ډېر ارزښت لري؛ ځکه چې کوم هېواد آزاد فکر ونه لري، د هغه هېواد د خلکو ژوند ذليل، خوار او حقير وي؛ نو داسې خلک پت او عزت هم نه لري، همدارنگه د هغه هېواد و گړي بيا ملي ژوند کلتور او يوالي نه لري، دا ډول خلک بيا له ټولو پرمختگونو څخه وروسته پاتې وي؛ نو په همدې اساس ټولنيزه بيداری کې د يوه هېواد د خلکو فکري ازادي او خپلواکي ژور رول لري؛ ترڅو ځوانانو ته د ازادۍ او خپلواکۍ فکر ورکړو؛ نو ځکه دغه په آزادی مين شاعر د ملي ژوند سر مايه آزادي او يووالی گڼي، استاد په دې اړه وايي:

عـمـل چې وي ازاد او انتقاد پکې بـنـدي وي
مـاهـلتـه د ظلــمـونـو سـخـت تـوفـان ليـدلـی
کـــه هـر يـو رانه وژنې خيال او فکر مو مه وژنه
پـــدې کـې مـې وطن ته لوی تاوان ليدلی دی

(روهي، ۴-۱۳۸: ۹۸).

له پورته بيتونو څخه دا څرگنديږي، چې شاعر په اصلي ټولنيزه بيداری کې د ملتونو د اصلاح په موخه ټولنيزه نيوکه او انتقاد اساس او بنسټ گڼلی دی؛ نو په هر هېواد او ملت کې بايد انتقاد ازاد وي، کړنې او عملونه بايد ازاده، نه وي؛ ځکه که انتقاد نه وي، نو استبداد او ظلم کچه لوړيږي؛ نو بايد د اسلامي کړنو سره سم عملونه تر سره شي، دی وايي: چې موږ ووژنه، ماديات مو له منځه يوسه، ملت مو نه مري؛ خو فکر او خيال مو مه وژنه، ځکه چې په دې کې مې د ملت تباهي ده، همدارنگه ملي هويت ، معنوي او مادي ارزښتونو ته او هم د گران هېواد ملي خپلواکۍ او مفکورو ته مو لوی تاوان دی.

**هېواد پالنه او ټولنیزه بیداري**

د استاد الفت صاحب ټولنیز پیغام د ملي او اسلامي بیدارۍ فکر تر څنګ یې د ټولنیز سمون او هېواد پالنې پیغام دی، چې هغه په دې اړه هم شعرونه ویلي دي، چې ټولنیزه بیداري پر مټ خلک د غفلت له خوبه را پاڅوي، په لاندې شعر کې یې د بیدارۍ لپاره د خلکو را بلنه داسې کړېده:

بـاداري پـریږدی خـادمـان شی د وطن او قـــام
په خوار غریب شي پس له دې لږ مهربان غوندې
هــلتـــه چـې یــو انـسان د بــل لکه غلام او سیږي
پـــه هـغه ځـای د خدای لعنت اوري باران غوندې
بـــــادار نـشـته پــه اسلام کې نـــه په کفر کې اوس
تــاسـې یـې نـوره ټیـنګه مــه ساتئ ایمان غــونـدې

(روهي، ۱۳۸۴: ۱).

استاد په هېواد مین پیاوړی شاعر، لیکوال او عالم د ټولنې ملي بیدارۍ ته یې، په خپل پورتني شعر کې دومره شعوري کتنه کړې او د هغې افغاني ټولنې ټولنیز رسالت یې درک کړی دی، نو ځکه یې د هېواد سمسورتیا او ازادی ملي مفکوره په ښکلي ډول بیان کړې ده.

د استاد الفت د هېواد پالنې په اړه بله شعري بېلګه:

د وطـــن پـــــه مـحبـت بـانـدې قسم خـــورم
چــــې د ځـــان لــــه غمه زیات د وطن غم خورم
چـې پـــه ســـر مـې د وطــن خـــدمــت منــلی
څـــه پـــروا ده کـــه خپـل ســر لکه قــلـم خــورم

(ویاړ، ۱۳۸۳: ۹۹).

د استاد د پورتنۍ شعري بېلګه په زړه پورې د هېواد پالنې پیغام لري. د نوموړي شعر ته که نظر وکړو؛ نو وینو چې الفت صاحب درباري او د میخانو شاعر نه دی؛ بلکه شعر یې د ټولنیزې بیدارۍ په هره برخه کې مسیحایي اثر لري. د هېواد پالنې ترڅنګ د استاد په شعرونو کې د ټولنیزې بیدارۍ نورو برخو ته هم اشاره کړې؛ د بېلګې په ډول په لاندې شعر کې د وینا او عمل ترمنځ توپیر:

سرو صورت یوازې مه ګوره معنا وګــوره
په سر کې فکر ، زړه کې پټه مدعا وګوره

ویـنایــي واوره بـیایي وګوره عمل ورسره
میل و رغـبت غـایه، هدف او تمنا وګوره

(روهي، ۱۳۸٦: ۲).

استاد الفت ټولنیزه نیوکه په دې پورته شعر کې داسې کړې، چې د هغه فکر د ملي او اسلامي بیدارۍ فګر دی، چې د خلکو په ټولنیز ژوند کې د ویښتیا او بیدارۍ حس پیدا کړي او بشري ټولنې باید د ژوند په ټولو چارو او حالاتو کې ظاهري او باطني برخه یې بشپړه وي، کړنې او اعمال درست او کره وي، صورت او سیرت سم وي، نو د بشري ټولنې د سمون او د هغو نیمګړتیاوې او عیبونه ورته جوت کړي، چې الفت صاحب ځوان نسل خپل حقانیت او وړتوب د خبرو او دعو پر ځای په عمل کې ځان ثابت کړی، چې خپل رب ته ځانونه په عمل سره نږدې کړو، د خلکو خوشې خبرې اوري او بیا د هغوی اعمالو ته پاملرنه وکړئ.

لکه چې شاعر بل ځای کې د علم او عمل په اړه وایي:

فـضیـــلت د انـــسان علـــم او عـــمـــل دی
کـه پـــه سـر یې پټکی، شال او که ملـمـل دی
پـــــــه چـپـن او بـــالا پـــوش ونـه غـــولیږی
مـــا د لنګ ځښــتن لـــــــــیدلی مکمل دی

( روهي، ۱۳۸٦: ۴).

په دې پورتنۍ شعري بېلګه کې شاعر د ټولنیزې بیدارۍ د پاره علم او د علم ترڅنګ یې پر علم عمل بهتره او غوره ګڼلی؛ ځکه چې پوهه انسان ته د انسانیت ټولې لارې چارې روښانه کوي، که نارینه وی او که ښځینه وي پوهه یې ورته اړینه ګڼلې.

نېکي، احسان او ټولنیزه بیداري:

کــه تـاکـیښوده د چـا پـه ســر ګلـونـــه
هیـر بـه نه کړي هیڅوک ستا دا احسانونه
ستا نیالګي که وکړي سیوری په خوارانـو
پـه عـاجــز او پـــه غـــریـب او یـتـیمانـو
اخــرت کـې بـــه همـدغـه ستا په کار شي
ستـــا هـغه جهـان بـه هم ګل و ګلزار شـــي

( الفت، ۱۳۷۵: ۹۰).

د شاعر احساس او عاطفه ژوره ده، د یتیمانو او غریبانو په حال یې ژړلي دي او هم یې د ولس احساس او عاطفه روزلې، ټول خلك د خواخوږۍ او همدردۍ خواته ته را بیداروي او دا احساس ورکوي، چې په کومه ټولنه کې څوك غریب، یتیم او خوار وي، د هغوي سره په دې فاني دنیا کې مرسته او همکاري وکړئ؛ تر څو مو آخرت هم ګل او ګلزار شي؛ نو اړینه ده، چې په خپل چاپیریال کې د خوارانو، یتیمانو حال ته ډېره پاملرنه وشي، چې پدې توګه به مو خپل ایماني مسوولیت هم تر سره کړی وي او آخرت به هم جوړ شي. پورتنۍ بېلګې ته ورته د استاد لاندې غزل هم د لوستلوده.

ژاړي پـه غـمـونـو کـې خـواخـوږي د هر چـاســـره
سـل پتـنګان سـوځـي د یـوې شـمعـې ژړا ســـره
ډك زړګی اوښکو ګرځـي وریځې په اسمان کې بیـا
څـــه ژړا ملګـرې ده د ژوند یـوې بـرېښــنا ســـــره
ټول باغ ژړېدلی ځکه اوښکې دي د ګـل په مـــــــخ
ډېـر لـکه لاله داغـلـي زړونـــه شـته صـحـرا ســـره
نه ښایي انسان ته چې د بل په غـم غمــــــــجن نـشي
لویــه بـــدبـخـتي ده کــه څـوك نه ژاړي لـه چـاسـره
داسـې بې غمي دی خدای په هیڅ کور کې پیدا نکړي
یـو کور کې چــې ویـر وي او بــل خاندې له لیلا سـره

( الفت، ۱۳۷۵: ۲۰۹).

ښاغلي استاد الفت د خپل ملت او اولس سره د زړه له تله همدردي او خواخوږي لري، هغه په خپل منثور او منظوم کلام کې ټولنیز ظلمونه ، زور او زیاتی سخت غندلی دی او سخته نیوکه یې پرې کړې ده.استاد د ټولنیزې بیدارۍ د نورو برخو ترڅنګ د ټولنې وکړي انسانیت او سړیتوب ته هڅول دي، لکه چې وایي:

د تـــوتـیانـــو لــــــــه ویــنا دا مـعـــلومـیږي
چـــې خبـرو بـــانـــدې څـــوك نه سړی کیږي
ســـړی نــه دی چــې یــې کــار د ســـړو نــه وي
پــه خبـرو کــه هـــرڅـــو مـره ښـه پـوهیــږي

(الفت، ۱۳۷۵: ۲۲۷).

په پورته بیتونو کې وینو چې، استاد په ډېره هنري ژبه ټولنه سړیتوب او انسانیت ته رابللې او په زړه پورې د انسانیت اصول، د سړیتوب پیغامونه ورښیي، لکه د وینا او عمل یو والی، مانا داچې انسان هرڅه وایي؛ نو باید همغسې یې په عمل کې ثابت کړي. د ټولنیزې بیدارۍ په برخه کې د استاد هراړخیز فکر د دې سبب شوی، چې د تولنې هره طبقه خلک یې خپل مسوولیت ته متوجه کړي، نوموړي د شاعر په توګه هغوی ته، چې شعر وایي، خپل مسوولیت داسې ور پېژني:

پـــه ســر کــې فـکـر د وطـن په زړه کې مینه د یــار
د زور او ظـلـــم لـــوی د ښـمـــن د آزادۍ طـــرفدار
پـــه حـــق ویـــلو مـــاتـــوي بـــت او طلـــسم د ډار
د شــاعـر د پـــاره مناسب دی همدغسې شــــــعار

( منګل، ۱۳۸۲: ۷۴ ).

خوا خوږی عالم استاد په ټولنه کې د مظلومانو او بیچاره خلکو او یتیمانو د مظلومیت په حال دردېدلی دی، په خوار او یتیم، بې وزلو سره به یې ډېره همدردي او زړه سوی درلود د بې وزلو خلکو ، ماشومانو په لیدلو سره به سخت ځورېده، بې کبره او بې غروره ادیب او پیاوړی لیکوال و او خپلو خلکو ته یې تلپاتې شعرونه او په میراث پرېښي، د ده شعرونو ته په کتو سره، استاد خپل شاعرانه مسوولیت داسې ترسره کړی، چې ښایي ساری یې ډېر لږ وموندل شي، په دې برخه کې د نوموړي لاندې ځلوریزه زموږ د خبرې ښه ثبوت دی:

زه بـــــل ځــــوك نـــه یم اولاد د غریبانو یـــمه
ســــکــنی ورور د عـــــــاجـــزانو د خوارانو یـــمه
یمــه لـــــه خــــــاورو پــیدا، خورمه له خــاوروپیدا
د لاس نــیالګــی د دې غــریــبو دهـــقانــانو یمــه

( منګل، ۱۳۸۳: ۴۹ ).

**له نړۍ سره اشنايي، سيالي او ټولنيزه بيداري**

د استاد پورته ذکر شوې ټولې بېلګې د ټولنیزې بیدارۍ په برخه کې ډېرې په زړه پورې او هدفمندانه دي، تر دې چې الفت صاحب د داسې مثبت فکر خاوند و، چې خپله ټولنه یې له نړیوالو سره سیالۍ ته هڅولې، په دې اړه د استاد لاندې ځلوریزه د لوستلو ده.

لـــــه واړه کــوره را ووځه لوی جهان سره آشنا شه!
خـیـل او قام نه را اوچت شه له انسان سره آشنا شه!
لــه هــگـــی نـــــه را بهر شه په قفس کې مه اوسېږه!
لـه دې تــیـتې هــوا پـــورتــه له طیران سره آشنا شه

( منگل، ۱۳۸۲: ۴۸).

استاد خپلو خلکو ته وایی چې له خپل محدود فکر او چاپیریال څخه را بهر شئ، په هره پوهه خپل ځان سمبال کړئ، د بېلابېلو خلکو له مادي او معنوي ارزښتونو سره اشنا شئ، انسانیت ترې زده کړئ، ترڅو هریو مو له خپلو مادي او معنوي ارزښتونو څخه برخمن شئ.

لنډه داچې استاد الفت په شعري ژبه استبداد، ظلم، استثمار او نور مضر عناصر غندلي دي او خپله وروستۍ پرېکړه یې په لاندې الفاظو بیان کړې ده.

اور بـل یــې مــا پــه خوب کې پرېشان لیدلی دی
ســتـا بــخـت خــومــې رقیبه دغه شان لیدلی دی
د گــلــو هـــــار پــه غاړه محبوبا شوه راحـــضوره
بـــلـــبـــله دا وطـــن مـــې گلســـتـــان لـیـدلی دی
کـــارغـــــان بــه پکې نه وي بلبلان بـــــه پکې وي
بــــــــاغـونــه بــه ســمسور وي ماباغبان لیدل دی
تعـبـیر یــې کــړی مــا پــه ظالمانو بــه چـــپه شي
چاپــه کـــاکــل مــې خوب کې د جانان لیدلی دی
مــهار بــه دې پــه پوزه شي د سروزرو خــاونــــده
پـه ســروشونـډو د پـاســه مــې پــېزوان لیدلی دی
زه پـتــې ســترگې نـه یمــه پــه هر څه اوس پوهیږمه
پـه خلاصـو ســترگو بـاندې مــا جــهان لیــدلی دی

( روهي، ۱۳۸٦: ۱۰۹).

**مناقشه**

استاد الفت د ادب او هنر په برخه کې په زړه پورې څېړنې کړې دي، هغه تل په خپلو شعرونو او هنري نثرونو کې یې د خپل هېواد وگړوته اړینې لارښوونې او سپارښتنې کړې دي، د ده په دواړو ژانرونو کې

موخه د نوي او راتلونکي نسلونه په ملي احساس روزل دي، په دې برخه کې يې ډېر ځوانان روزلي دي او روزل کيږي، استاد د چاپ شوي اثارو په لوستلو سره زموږ ملت د هېواد پالنې او ازادی سره مينه، ملي احساسات د مظلومانو او تش لاسي ملت لاسنيونه، ملت سره خواخوږي، او دې ته ورته په زړه پورې نور ملي احساس د روزلو ليوالتيا زياته کړي ده او زاياتوی يې. تل يې ظالمانو ته په بده سترګه کتلي او په خپلو ليکنو کې غندلي دي. ښه ته يې ښه ويلي او بد ته يې بد ويلي، د خپل ولس ليدلي حالت څخه يې پرده پورته کړې، هغه په خپل هنري نثر او شعر کې د حقيقت ، ريښتنولي، حق او عدالت په ښو ښکلو الفاظو سره په روانه ژبه بيان کړي دي.

د دغه شاعر اشعار زياتره ټولنيز، ملي، وطني او انتقادي خواوې لري، خو فکري خوا د ده په ټولو اشعارو کې درنه ده، نو په همدې بنسټيزې موخې له امله د ده ټولو تخليقي اثار د ادب مينه وال د څېړنې او لوستلو لېوالتيا لري.

**پايله**

د ادب مينه وال به د دې ليکنې په لوستلو سره، د خپل هېواد رښتني خدمت ته او هم د شخصي ګټو پرځای اجتماعي ګټو ته ژمن وي، د استاد الفت نثري او نظمي ټوټو څخه په هر زمان او مکان کې د ټولنيزو ناخوالو او دردونو څخه پرده پورته کړي، د دغه شاعر او ليکوال ژور او لوړ فکرونه د هېواد والو ته دنيکبختی او خيرغوښتنې ، د هيواد د پرمختګ او بيارغونې په موخه خپاره شي، تر څو د هېواد په ټولو وګړو کې ملي احساسات، هېواد پالنه، د ازادی او خپلواکی احساس، د خلکو ترمنځ همدردي، خواخوږي او يوالی دې ته ورته نور ملي پيغامونه زمونږ د ولس ااحساس په روزولو او غوړولو ليوالتيا او تلوسه زياته کړي. شعر او شاعری ځنې، يوازې دغه هيله نه لرو، چې د خلکو سترګې د جمال او طبيعي مظاهرو خواته را واړوي او د اوريدونکي په طبيعت کې تش همدومره خوښي پيدا کړي، چې د يو ساعت خوشحالتيا موجب وګرځي او نور څه اثر وربانديې مرتب نه شي.

ټولنيزه بيداری په اشعارو کې خلک د غفلت له درانه خوب څخه را ويښوي، دا ملي بيداري ولس ته د ظالمو ظلمونه او رازونه را څرګندوي، د مظلومو سره خواخوږي او د اجتماعي ظلمو نو مخه نيول لپاره په شعر کې ملي بيداری اغېزناکه وي، ترڅو د ظالمو پر مظلوم ولس ظلمونو او عيبونو ته ګوته نيسي او خلکو ته ښيي، چې د ظالمو خلکو ملاتړ مه کوي، بلکې پر وړاندې يې ملي پاڅون او مبارزه وکړئ او ټولنه هڅوي چې په ټولنيز نظام کې ټولنيز عدالت پلي کړئ. همدارنګه د راتلونکي نسل سالمه فکري روزنه وکړئ، چې د ملت او هېواد لپاره ژمن او متعهد ځوانان جوړ شي.

## ماخذونه


۱ - الفت، گل پاچا. (۱۳۷۵ ه.ش). د الفت ملغلرې. (درېیم چاپ). د شهرت ننگیال په زیار. پېښور: دانش خپرندویه.

۲- الفت، گل پاچا. (۱۳۸۵). نثري کلیات. عبدالرحیم بختاني په زیار. دویم ټوک. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۳- باجوړی، بریالی. (۱۳۸۷). د ادبیاتو په لړ کې. کابل: حسام ادبي ټولنه.

۴- روهي، محمد صدیق. (۱۳۸۴.ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ. (درېیم چاپ). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۵- روهي، محمد صدیق. (۱۳۸٦). ادبي څېړنې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

٦- منگل، علي محمد. (۱۳۸۲). شعرد شاعرانو له کلام څخه وپېژنئ. کابل مجله.(۴-۳)کڼه. کابل: د افغانستان علومو اکاډمی.

۷- منگل، علی محمد.( ۱۳۸۳). د استاد په شعر کې غوره انځورونه. کابل مجله.(۱۰-۹)گڼه. کابل: د افغانستان علومو اکاډمی.

۸- ویاړ، حضرت محمد. (۱۳۸۳). په مطبوعاتو کې د الفت د مړینې انعکاسات. کابل مجله.(۲-۱)گڼه. کابل: د افغانستان علومو اکاډمی.